ژباړه: ولي

۱۶ فبروری ۲۰۱۲

## تاسو د ټول ملت لپاره بیلګه یاست

۲۵ سپتمبر ۱۹۵۰

مائوتسه دون

د جګړې د اتلانو او د صنايع، کرنې او د پوځ د بیلګه ایزه کارکوونکو د ملي کنفرانس استازو ملګرو:

د چین کمونیست ګوند مرکزي کمیټه ستاسو کنفرانس ته د ګرمو شاباسیو د لیږلو په ترڅ کې، ستاسو له فعالیتونو مننددوی دی او دې فعالیتونو ته د قدر په سترګه ګوري.

تاسو پر بې شمیرو ستونزو او سختیو باندې غالب شوې او د دښمن د نابودی په مبارزه او د صنعتي او کرنې تولید د زیاتیدنې په احیا کې مو ستره میړانه، هوښیاري او هاند ښودلی دی. تاسو د چین ټول ملت لپاره بیلګه یاست، هغه فعالین یاست چې د ولس موضوع مو د کار په ټولو برخو کې مخ ته بیولی ده او د خلکو له دولت څخه د ملاتړ یوه نیغه ستنه او د ولسي دولت او د خلکو تر منځ د اړیکو پل یاست. د چین کمونیست ګوند مرکزي کمیټه، ټول ګوند او ملت دې ته رابلي چې له تاسو زده کړي او په ورته وخت کې تاسې ګران استازي ملګري او د جګړې ټول اتلان او د هیواد بیلګه ایزه کارکوونکي رابلي چې له ولسونو او د مبارزې په بهیر کې زده کړې ته ادامه ورکړئ.

تاسو به یوازې د غرور او ځان منلي په وړاندې د مقابلې او د زده کړې د نه ستومانه کیدونکی ادامې له لارې وتوانیږئ چې د چین ستر ولسي جمهوریت ته د پام وړ خدمت ته ادامه ورکړئ او په پایله کې د خپل نوم وړ ووسئ.

چین باید ځواکمنه ملي دفاع او اقتصاد جوړ کړي، دا هغه دوه دندې دي چې ستر اهمیت لري. د دې تر سره کول له هغه نژدې او کلک یووالي سره تړاو لري چې تاسو ملګري یې د ولسي آزادي بخښوونکي پوځ له قوماندانانو او جنګیالو او د ولس د نورو برخو ټولو کارګرانو او دهقانانو سره ټینګوی؛ ستاسو د ټولو منظم کوښښ سره ارتباط لري. د چین ولسی جمهوریت د تاسیس لومړني کلیزې په درشل کې ستاسو جلسه له ځانګړې اهمیت څخه برخمنه ده. مونږ تاسو ته په کنفرانسونو کې د بریا او د راتلونکو ورځو په کارونو کې د سترو بریالیتوبونو هیله کوو.

----

د چین د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د تبریکۍ پیغام چې د جګړې د اتلانو او د پوځ او کرنې او صنایع بیلګه ایزه کارکوونکو په ملي کنفرانس کې ولوستل شو.